# دَمېجریونس خلیل ژونداؤدَفکرمختصره جا□□□

* محمد بلال

** ډاکټر نصرالله خان، اسسټنټ پروفېسر، اسلامیه کالج پوهنتون، پېښور

یونس خلیل ژوند

شلمه صدۍ پهٔ ټوله نړۍ کښې دَ انساني تهذیب دَ بې کچه ترقۍ اؤ سیالۍ بېدارۍ اؤ علمي،تهذیبي،ثقافتي اؤ هنري ترقۍ پهٔ حواله ډېر اهمیت لري. شلمې صدۍ چې پښتو ادب ته څهٔ ورکړي دي تېرو ټولو صدو پهٔ شریکه نهٔ دي ورکړي پهٔ دې صدۍ کښې دَ پښتو شعر وادب اؤ فکر وفن پهٔ مېدان کښې چې څومره ستر اؤ ګڼ اړخیز شخصیات پیدا شوي دي. تېرې صدۍ کښې دَ هغې مثال نهٔ شي پېش کېدلے.پښتو جدید دور پهٔ پښتو ادب کښې پهٔ زرین دورهم یادېږي. پهٔ دې دور کښې دَ پښتو نثر اؤ نظم پهٔ دواړو اصنافو ښهٔ پهٔ زړهٔ پورې کار شوے دےاؤ پهٔشعوري ډول پهٔ نوې نوې موضوعاتو باندې تخلیق شوے دے. داسې شخصیاتو پهٔ دې دور کښې ژوند کړے دےچې پښتو ادب ئې دَ دنیا دَ نورو سیالو ادبونو سره پهٔ صف کښې څنګ پهٔ څنګ ودرولے دے. پهٔ دغه قلمکارانو کښې دَ مېجر یونس خلیل نامه هم دَ قدر وړ ده. یونس خلیل بنیادي توګه رومان پرست شاعر دے. نظم هم لیکي اؤ غزل هم. دَ دې نه علاوه ئې دَ ژوند پهٔ هر اړخ باندې پهٔ منظوم انداز کښې لیکل کړي دي.

١ . دَ مېجر یونس خلیل زېږون:.

همېش خلیل دَ مېجر یونس خلیل دَ زېږون پهٔ حقله لیکي.

"دَ پېښور پهٔ،بره تاکال،نومې کلي کښې دَ انجنئیر محمد ایوب خان الکوزي کره پهٔ کال ١٩٢٧ء دَ اګست پهٔ وړومبۍ ورځ پیدا شو(١)

٢ . ابتدائي تعلیم:.

ابتدائي تعلیم ئې دَ خپل کلي سرکاري سکول نه حاصل کړو. دَ وړاندې تعلیم حاصلو دَ پاره پهٔ اسلامیه کالجېټ هائي سکول پېښور کښې داخل شو. دَ لسم (مېټرک) کولو نه پس پهٔ اسلامیه کالج پېښور کښې داخل شو. دلته نه ئې ایف اے سي اؤ بېچلر اٰف سائنس (B.sc) امتحانونو پاس کېدو نه پس پهٔ فوځ کښې دَ کمېشن امتحان ورکړو اؤ پهٔ دغه امتحان کښې کامیاب هم شو.

٣. ملازمت:.

دَ فوځ شارټ سروس کمېشن امتحان پاس کېدو نه پس پهٔ فوج کښې دَ لفټېنېټ پهٔ عهده مقرر شو. دَ فوځي تربیت نه پس دَ سګنلزپهٔ شعبه کښې مقرر کړے شو.

۴. زنداني ژوند:.

یونس خلیل چې دَ مېجرۍ عهدې ته ورسېدو . نو پهٔ کال ١٩٧٢ء کښې دَ ډهاکي (مشرقي پاکستان) اؤ هندوستان یؤ بل سره ملکي حالاتو خرابېدو پهٔ وجه دواړو یؤ بل سره دَ جنګ پهٔ مېدان کښې مخامخ شول. پهٔ دې جنګ کښې دَ پاکستان زرګونو فوځیانو سره مېجر یونس خلیل هم دَ هندوستان فوځیانو ګرفتار کړو اؤ دَ هندوستان پهٔ مختلفو جنګي کېمپونو کښې ئې بندیوان کړلو. مېجر یونس خلیل ئې دَ بریلي ښار پهٔ یؤ قېدي کېمپ کښې بندي کړو.

یونس خلیل یؤ خوا کښې دَ وطن سرحدونو حفاظت کړے دے نو بل طرف ته ئې پهٔ دغه سختو اؤ کړمو کښې دَ پښتو ادب خدمت هم کړے. دَ قېد وبند پهٔ وخت کښې هم هغهٔ دَ یؤ عام قېدي پهٔ شان نهٔ ؤ. هغه دَ حساس ذهن اؤ مزاج خاوند ؤ. هغه پهٔ قېد وبند کښې هم دَ پښتو ادب خدمت کړے دے اؤ دَ خپل زړهٔ درد ئې دَ شعر پهٔ ژبه بیان کړے دے. لکه چې وائي.

" دَ تاریخ دې حادثه کښې
دَ تیارو پهٔ دې لمحه کښې
دَ فکرونو قافلې دي
دَ دردونو بیابان کښې"(٢

چې څهٔ وخت دَ دواړو ملکونو (پاکستان هندوستان) یؤ بل سره دَ روغې جوړې دَ یوې فېصلې تر مخه ټول پاکستاني قېدیان پاکستان ته راولېږلے شول نو پهٔ دغه قېدیانو کښې مېجر یونس خلیل هم ازاد کړے شو اؤ چې خپل وطن ته راغلو نو څهٔ موده پورې ئې دَ کوهاټ دَ سولجر بورډ پهٔ دفتر کښې دَ سېکرټري پهٔ عهده خپله وظیفه تر سره کوله. پهٔ کال ١٩٨٦ء

کښي دَ ملازمت پرېښودو نه پس ئي ازاد ژوند تېرول خوښ کړل او خپل فارغ وخت ئي شعروشاعرئ ادبي محفلونو او خپلو ملګرېو ناستي پاستي ته وقف کړو.

**۵.** مړینه:.

مېجر یونس خلیل چي څۀ وخت دَ خپل زړۀ دَ رنځ نه خبر شو نو دَ علاج دَ پاره اسلام اٰباد ته لاړو. پۀ هسپتال کښي پرې ناساپه دَ زړۀ دوره راغله او دَ جولائي میاشتي پۀ شلمه ۲۰ نېټه پۀ کال ۲۰۰۰ء کښي دَ زیارت پۀ ورځ دَ دې فاني دنیا نه سترګي پټي کړې. دَ مېجر یونس خلیل مرګ دَ پښتو خوږې پستي لهجي او دَ رومان شهزاده مرګ ؤ. دَ هغه ناساپي مرګ دَ هغه ادبي ملګرو ته ډېر زیات درد ورسولو. لکه چېمحمد همایون هما دَ دَ مېجر یونس خلیل پۀ وفات ۲۱ جولائي ۲۰۰۰ء کښي دَ "ښکلے انسان"عنوان لاندې خپل تأثر وړاندې کوي.

"دَ سحر ناوې به څۀ کړي غزل خوان لاړ
حُسن لاړو،نغمه لاړه،ګلستان لاړ
قافله دَ رنګ او بُو پۀ کډه لاړه!
رومان دَ فن کډې چي ؤ رازدان لاړ

ښاپېرې به اوس دَ شپو چا وته رقص کړي
چي ښائست دَ دوي دَ ښکلي پرستان لاړ
دَ خوږې لهجي شاعر ؤ ما بلبلے
پۀ رښتیا هغه وارث دَ لوے رحمان لاړ
همایونه پۀ تیارو کښي پرې تېرېږ
روڼ پۀ ذهن هم پۀ زړۀ هغه روښان لاړ"(۳)

**دَ مېجریونس خلیل فکر:.**

یونس خلیل پۀ پښتوجدید ادب کښي پۀ نظمي برخه کښي پۀ ګڼ اړخونو باندې طبع ازمائي کړې ده. دَهغه پۀ کلام کښي حُسن ،عشق، حقیقي عشق، وطنیت، اصلاحي ، رومانیت او دَ هغه وخت سماجي حالاتو او ناروا رسمونو بیان هم شته دا دَ هغۀ دَ کلام خاص موضوعات دي او هره موضوع ئي پۀ خوږه، پسته ژبه او پۀ ښائسته انداز کښي بیان کړې ده چي دَ کلام خوند ئي یو پۀ دوه شیرین کړے دے. هغه کۀ یو خوا دَ رومان شهزاده ګڼلے شینو بل خوا هغه دَ دیني فکر علمبردار هم ؤ.

دَ یونس خلیل حقیقي شاعري:

حقیقي شاعري هغه شاعرئ ته وئیلے شي. کوم کښي چي الله او دَ هغۀ رسول سره دَ مینې او محبت اظهار شوے وي. دغې مینې محبت ته حقیقي عشق وئیلے شي. صوفیان پۀ دې عشق باندې ډېر زور راوړي چي دَ زړۀ نه دنیاوي محبت ختم شي او صرف دَ یو الله او دَ هغۀ دَ رسول مینه محبت پۀ زړۀ کښي پیدا شي. یونس خلیل هم یو مخلص او دَ مضبوطي عقیدې مسلمان ؤ هغه دَ وحدانیت قائل او دَ حضورؐ دَ مینې پتنګ ؤ. هغه وائي کۀ انسان دَ نطق او دَ ګویائئ هر څومره کمال ولري. خو بیا هم دَ خپل خالق حمد وثنا حق نۀ شي ادا کولے. لکه چي وائي.

"ګویائي ده انتظار کښي دَ ازل نه
چي قابله ستا دَ وصف دَ بیان شي
مګر ژبه چي محدوده دَ مکان ده
تذکره به پۀ دې څۀ دَ لا مکان شئ.۴

یونس خلیل دَ اسلامي علوم نه هم ښۀ خبر ؤ او دَ اسلامي تعلیماتو ئي هم ښۀ مطالعه کړې وه. ځکه خوحضورؐ دَ انسانیت او تکمیل ذریعه ګڼي او دنیا دَ حضورؐلهٔ مخې جوړه شوې ګڼي حضورؐ اوُلین او اخرین هم ګڼي. وائي چي.

"یؤ لمن وه خو دَ برخې نۀ محرومه
چي هستي دَ محمدؐ ورته عطاء شوه.
خپل مقام ته ساه نیولي ارتقاء شوه

مبارکه ابتداء اؤ انتهاء شوه.۵

بل ځائې کښې دَ حضورؐ پهٔ حقله وائي

"دَ قلم هستي پېدا شوه کائنات يؤ صحيفه شوه
دَ تحرير اغاز چې وشهٔ هغه نوم دَ محمدؐ ؤ
ورځې شپې پهٔ چا خبر شوې رابېداره اګاهي شوي
زمانه شو پهٔ ګردش کښې يؤ ترتيب دَ ژوند پېدا شو

دا رنګ دَ محمدؐ دے چې انسان ئې محترم کړي
دَ سيالۍ پهٔ بام ښکاره شوه کائنات کښې معتبر شو۶.

هغه دَ الله اؤ دَ رسولؐ پهٔ مينه مست ؤ لکه چې وائي.

هر يؤ ټکے بې سباطه دَ حبيب پهٔ تذکره کښې
چې تخليق دَ کائنات ئې ګواهي دَ احترام ده
صرف مينه دَ حضورؐ ده چې انسان ئې محترم کړم
نهٔ پهٔ ذات پورې محدوده نهٔ خوره پهٔ يؤ مقام ده۷

بل ځائې کښې وائي.

ناداري ئې بادشاهي ده دَ هما سېوري ته ناست يم
محمدؐ زماکوثر دے کهٔ سېراب کهٔ بيابان يم۸

**دَ مېجر يونس خليل رومانوي شاعري:**

يونس خليل دَ حقيقي عشق اؤ حقيقي شاعرۍ سره پهٔ رومانوي مېدان کښې هم ښهٔ پهٔ زړهٔ پورې شاعري کړې ده.
رومانويت اؤ کلاسکيت دَ ادب دوه غټې برخې دي دَ رومانويت پهٔ حقله فضل مير خټک پهٔ خپل کتاب کښې وائي .
"دَ ادب پهٔ هره فن پاره کښې څلور څيزونه وي.تخيل،جذبات،عقل وخرد
کله چې اولني دوه پهٔ اخري دوؤ زورور وي نو دې ته رومانيت وئيلے شي. کله چې دا رجحان مخالف شي بيا کلاسکيت دے."۹

پروفېسر انور جمال دَ رومانيت پهٔ حقله داسې وئيلي دي.

""رومانويت" زندگی کا ایسا مخصوص رویہ ہے جس میں ازاد خیالی،انا پرستي،لاابالیت،خود پسندی اور بغاوت کے عناصر پائے جاتے ہیں تخیل کی اس آزادروی سے تخلیق کا ایک ایسا چشمہ پھو ٹتا ہے جو منہ زور طوفان سے کم نہیں رومانیت ایک طرح کا Nostalgia ہے جو مریضانہ مسلک رکھتا ہے جس میں شعور اور سنجیدگی کے بجائے بے لگام خیال پروری اور انائی عناصر کا غلبہ ہوتا ہے ادب میں روما نیت کی تحریک کا باقاعدہ بانی روسو Rousseau ہے."۱۰

غرض دا چې رومانيت دَ کلاسکيت پهٔ ضد ادب کښې ښکاره شوے دےچې دَ زړو روايتونو نه ئې بغاوت کړے دے. پهٔ دې تحريک کښې پهٔ شاعر باندې هېڅ پابندي نهٔ وي. ځينې شاعرانو پهٔ کښې وطني اؤ مذهبي مسلکونه هم قايم کړي دي. پهٔ دغه شاعرانو کښې دَ مېجر يونس خليل نامه هم راځي. هغه هم پهٔ رومانيت کښې مذهبي ډلې سره تعلق لري. هغه دَ مشرقي رومانيت اصولو لاندې شاعري کړې ده اؤ دَ مغربي رومانيت نه ئې بغاوت کړےد ے.لکه چې وائي.

"نامعلومه شانې ساز راته غږېږي
اؤ جلوې رانه چاپېره دَ جانان دي

چار چارپېره رانه چا ده غبېږ نيولي
دغه څوک دے چې مېبولي پهٔ نازونو۱۱

دَ يونس خليل دَ حُسن طلب دَ مينې دَ نازکو کېفياتو بيان دَ منظرونو دلفرېبياؤ باريک بيني دَ تخيل چې دَ يؤ بل سره يؤ ځائې شي نو يؤ داسې فنپاره ترې جوړه شي چې دَ فطرتي ماحول ګمان پرې کېږي. لکه چې وائي.

"تهٔ سپوږمۍ دَ ښائست دَ ښائست دَ اٰسمانونو
واړه ستوري دوړېدلي ستا پهٔ لارو کښې ګلونه
هر قدم دې يؤ نغمه ده لکه زېرے دَ بهار وي
دَ ښائست دَ راز تفسير ئې چې داستان دېما سپوا دے
ته هما دَ خپلو زلفو پهٔ ما سپورے دَ نصيب شي
پهٔ خاموشه ځان ګويائې درښا پهٔ مخ رښا ئې ۱۲

دَ هغهٔ شاعري لوستونکي دَ ځان سره داسې خوشې بيابان اؤجزيرو ته بيايي چې هلته دَ انسان زړهٔ تسکين مومي. هلته حُسن وسرور رقصونه کوي اؤ ګېر چاپېره رنګين ماحول وي. دا دَ يونس خليل دَ کلام خاص خوبي ده. دَ يونس خليل دَ شاعرئ پهٔ حقله همايون هما ليکي.

"دَ يونس خليل دَ کلام ځاځکي پهٔ يوه خوبولے شان روماني فضاد ذهن پهٔ ورشوګانو لکه دَ پرخې دَ نازنو قطرو داسې پاسته پاسته پرېوځي چې دَ هغې پهٔ نشه کښې لوستونکے يؤ داسې دنيا ته يؤسي چرته چې دَ نظر تر حدونو دَ مينې زر زرې پلوشې خورې وي. دَ ژوند اهنګ سره دَ خوبونو پهٔرنګ کښې ګډ روښانه اور اورکې چاپېره الوزي اؤ لوستونکے دَ يونس خليل دَ شاعرۍ دَ رنګين ماحول نه چې را بهر شي پهٔ احساساتو لکه چې مستو ښاپېرو دَ پانزېبو شرنګار خوره وي۱۳

يونس خليل دَ خوبونو دنيا اؤ فطرت عکاسي دَ شعر پهٔ ژبه داسې کوي.

"دَ سيند غاړه ده سپوږمۍ ده نرۍ باد دے
پهٔ فضا کښې رقص شروع کړو مست خوبونو
اؤ چې خاندې نو شروع شي غلې غلې
چار چاپېره کائنات کښې سرودونو ۱۴

تخيل پرستي يادَ خوب وخيال دنيا کښې خوند اؤ سرور محسوسول دَ رومانيشاعرۍ څرګند خصوصيات دي، پهٔ دې وجه يونس خليل هم پهٔ دغه دنيا اؤ خوبونو کښې ورک لېونے دے.

"دَ سپوږمۍ رڼا اؤدهٔ ده پهٔ يؤ خوشې بيابان کښې
کهٔ يؤ خوب دے را ګېر شوے دَ حالاتو پهٔ ازغو کښې

کهٔ يؤ اوښکه پهٔ بېوده بې حاصله انتظار کښې
ياکهٔ عکس دَتنهايۍ دے دَ ځوانۍ پهٔ اٰئينه کښې۱۵

"دَ ماښام به دوش دې زلفې جوړې کړې
دَ شفق دَ سوري لاندې مېخانه ده
پهٔ ګردش کښې دَ نيولې دَچشمانو
دا معرور ځان ورکه زمانه ده ۱۶

"تهٔ مسکۍ لکه سپوږمۍ دَ څوارلسمې
لکه پاڼې دَ ګلونو خورې شوې
لکه نقش دَ نو بهار دَ قدمونو
لکه زېرے پهٔ هوا چې څوک تحرير کړي;
لکه ستوري دَ سندرو پهٔ اٰسمان شي
دوړېدلي ملغلرې هر طرف " ۱۷ ته

دَمېجر يونس خليل پهٔ شاعرۍ کښې دَ سماجي حالاتو تذکره

يونس خليل دَ يؤ جديد شاعر پهٔ حېثيت دَ خپل چاپېرچل دَ حالاتو اؤ دَ دور دَ ظلم دَ جبر دَ ناکړدونه هم سترګې نهٔ پټوي. دَ يؤ حساس اؤ مخلص شاعر پهٔ حېثيت دَ هغهٔ پهٔ هر څهٔ باندې نظر وي . لکه چې وائي.

"څهٔ به فرق پهٔ دغه دور کښې دَ روا اؤ ناروا شي
پهٔ کوم شان چې دار ته خېژو ورته مرګ هم وار خطاشي

شپه که هر څومره در نه ده خو اخر به سپین سبا شي
دَ حسینؓ جذبه خو شته دے زندګي دې کربلا شي ۱۸
"نه دَ لارې دَ سختۍ نه دَ سفر نه
که ویرېږو نو ویرېږو دَ رهبر نه
دَ انسان دا بده ورځ چې توره شپه ده
اٰخر چرې به اشنا شي دَ سحر نه۱۹

بل ځائې کښې وائي.

"ستغي سپورې لکه څوکې دَ ازغیو دي
بې مهرې ده ګېر چاپېره دَ حالاتو
زندګي په هر قدم دَ زهرو ګوټ دے
ما خوړه کړه ستا دَ میني په نباتو"۲۰

دَ مېجر یونس خلیل زنداني شاعري:

یونس خلیل دَ پاکستان فوځ کښې دَ مېجر په عهده خپله وظیفه تر سره کوله. چې په کال ۱۹۷۱ء دَ مشرقي پاکستان اؤ هندوستان خپل مېنځ کښې په جنګ شو نو په دغه جنګ کښې مېجر یونس سره دَ نورو ملګریو ګرفتار شو. زنداني شاعري هغې شاعرۍ ته وئیلے شي کومه چې دَ قېد وبنددَجېل تورو تمبو دننه تخلیق کړے شي.

یونس خلیل هم زاندني وخت هسې عبث نۀ دے تېر کړے ولې هغه حساس مزاج شاعر ؤ. دَجېل دننه پۀهغه باندې یا دَ هغه په ملګریو باندې چې کوم حالات اؤ سختي تېرې شوې وې هغه حالات اؤ سختي یونس خلیل دَ شعر په ژبه باندې بیان کړې دي. لکه چې وائي.

"څۀ بې رحمه دغه زمکه چې په وینو نۀ صبرېږي
فکر دا دَ وینو څاڅکي ټکي ټکي په ټول کېمپ کښې
دَ وفا دَ قول تحریر دے دا زما دَ قام تقدیر دے
دَ مظلوم دَ غاړې ښار دے دَ ظالم دَ پښو زنځیردے ۲۱

بل ځائې وائي چې.

"که داغونه مې دَ زړۀ دي
که زخمونه دَ نظر دي
دَ زندان په توره شپه کښې
راته نخښې دَ سحر دي۲۲
دَ زولنیو نظم کښې لیکي.
زولنۍ زما په پښو کښې
تش خوبونه په جولۍ کښې
زنځیرونه چې شرنګېږي
دَ زندان په تنهائۍ کښې"۲۳
"بیا ماښام شۀ تنهائۍ کښې
ور لا لرې دَ زندان دے
پرهرونو سره ناست یو
په هر زړۀ کښې چراغان دے"۲۴

اؤ په "یادونو نظم' کښې وائي.

"دَ زندان دَ تورو شپو په تنهائۍ کښې
ستا یادونه چې مشال دَ نزدېکت شي
قربتونه دَ رڼا په لاره راشي
اؤ خیالونه یؤ ساعت کښې حقیقت شي"۲۵

دَ نظم "محفل تنهایۍ کښې " څۀ دا رنګ وائي.

"دَ محفل په تنهایۍ کښې دَرونق په مقبره کښې
دَ انسان دَ زړۀ زخمونه خپلو څرېکو ته کچه دي

هغه څرېکې چې نصيب ئې ناتمامه انتظار دے
هغه څرېکې سترګې اوس يۀ هغه مسيحا ته
چې راتګ ئې بس يۀ سپورے دَ خپل وهم بيابان کښې
وسعتونه دَ خيالاتو وچې ډاګې لا محدوده
نۀ خاکه شته، نۀ رنګونه چې شاهکار ترې نه تخليق شي
نۀ ماضي ته څۀ کتنه نۀ څۀ فکر مستقبل ته
اؤ دَ حال خو دغه حال دے لکه خوب دَ باده خوارو
يۀ مخموره بې حسئ ته دَحالاتو نه فرار دے۲۶

دَ خپلو زولنو شرنګا دَ راتلونکي دور نغمې ګڼي.لکه چې وائي.

"دا چې شرنګ دے نن زما دَ زنځيرونو
دا به چرې دَ راتلونکي وخت نغمې شي۲۷

دَ يونس خليل پۀ شاعرئ کښې حُسنوعشق:

حُسن و عشق دَ شاعرئ بنيادي موضوع ده. عشق دَ حُسن طلبګار دے.دَحُسن وعشق پۀ موضوع باندې هر شاعر دَ خپل زړۀ درد اؤ ﺑﺮاس ويستلے دے. حسن و عشق دَ هر شاعر پۀ کلام کښې موجود وي. مېجر يونس خليل پۀ غزل اؤ نظم دواړو کښې هم دَ حُسن وعشق شاعري کړې ده. هغه دَ حُسن پرستار اؤ دَ پاکې مينې شاعر دے. هغه دَ حُسن صداقت اؤ دَ مينې پاکېزګئ ډېر زيات قائل دے.هم دغه وجه ده چې دَ هغه پۀ کلام کښې غېر ادبي يا پرېوتي الفاظ پۀ نظر نۀ راځي..دَ مېجر صاحب شاعرئ پۀ حقله اخونزاده فرمان مسافر ليکي.

"دَ حُسن صداقت دَ پرستار شاعر پۀ ادبي نړئ کښې دَ خپلې سپېځلې شاعرئ دَ مخصوص انداز تر مخه پۀ پښتو نخوا کښې جوت مقام لري پۀ پښتو شاعرئ کښې ورته ډېر قدر و منزلت پۀ نظر کتلے شي."۲۸

مېجر يونس خليل دَ حُسن پۀ حقله خپل نظر داسې وړاندې کوياؤ حُسن وعشق يۀ نۀ ختمېدونکے سفر ګڼي.

"محبت خو يۀ سفر دے ناتمامه
ناتمامه ئې دَ څرېکو سوز ګذار دے
يۀ ورکه يۀ لټون دے بې حاصله
يۀ أغاز دے خو انجام ئې بې أغاز دے"۲۹

وړاندې وائي چې زما مينه دَ حدونو پابنده نۀ دهاؤ نۀ زما مينه دَ کال اؤ صدئ ده. هغه وائي چې زما مينه ازلي اؤ ابدي ده لکه چې وائي.

"دَ وختونو دَ سرحد نه پورې وتے
زما مينه نۀ دَ کال نۀ دَ صدئ ده۳۰

يونس صرف ګرېوان څېرل دَ مينې منزل نۀ ګڼي بلکې پۀ مينه کښې لا پۀ وړاندې نور هم ډېر مقامات مني. لکه چې وائي.

دَ ګرېوان څيرل منزل نۀ دے مجنونه
لا پۀ وړاندې ډېر دَ مينې مقامات شته"۳۱

يونس خليل دَ حُسن و عشق حقيقت اؤ دَ خپل عشق حالات څۀ دا رنګ بيانوي.

حُسن تول سزا سزا ؤ
محبت قصور قصور ؤ

زۀ دَ خپل ژوند به څۀ وايم
يۀ چراغ خو بې نور ؤ
صرف ستا دَ سترګو مئے ؤ
چې يونس پۀ کښې مخمور ؤ۳۲

دَ دې سختې باوجود هم هغه دَ دې خبرې قائل دے چې ژوند هغه دے چې دَ مينې پۀ خوږو خوږ شياؤ بې لۀ مينې ژوند پۀ ژوند نۀ حسابوي. دَ ژوند دَ پاره مينه ضروري ګڼي.لکه چې وائي.

سر شاري ده،رعنائي ده،بې خودي ده
زندګي پۀ محبت کښې زندګي ده
ستا الفت دے چې ژوندن ئې را له خوږ کړو
ګنه ژوند خو سر تر پايه يۀ تلخي ده."۳۳

بل ځائي وائي.
"مینه رنګ دَ شفق زار دے
دَ ژوندون دَ شپې سحر کښې"۳۴
"کهٔ یقین دے کهٔ ګمان دے
ستا دَ حُسن خوږ داستان دے
مینه هغه اګاهي ده
چې دَ راز پهٔ خبر وي

مینه لاره دَ پښتو ده
دا ائین دَ زندګۍ د ه ۳۵

یونس خلیل صرف پهٔ انسان نهٔ بلکې دَ کائنات پهٔ هر څهٔ کښې حُسن اؤ هغې سره مینه کوي اؤ دَ هغې قدر کوي.
" قدر دان یم څومره قدر دَ سېلاب کړم
تماشه چې ناست پهٔ غاړه دَ دریاب کړم
هغه وخت مې چې ستا مینه پهٔ کښې نهٔ وه
هغه څنګه پهٔ خپل عمر کښې حساب کړم۳۶
هغه دَ مینې طلبګاراؤ دَ نفرتونو سخت مخالف دے.لکه چې وائي.
نفرتونو نه دَ مینې طلبګار یم
دَ دې جرم اقبالي یم خطا کار یم
ملغلرې مې دَ مینې سرمایه ده
خو حالاتو نه یونسه! ډېر نادار یم۳۷

اؤ پهٔ اخره کښې دَ دې خبرې قائل شوے دے چې کله مجازي عشق انتها ته ورسي نو دَ هغه ځائې نه دَ حقیقي عشق مزل شروع شي.
"انتها چې دَ مجاز شوې
ابتداء دَ حقیقت شوې
تصادم لهٔ خپله ځانه
مرحله دَ محبت شوې

داغ دَ مینې پهٔ سینه کښې
زما شمعې دَ عظمت شوې"۳۸
دَیونس خلیل پهٔ شاعرۍ کښې حب الوطني:.
یونس خلیل کۀ یؤ خوا پښتون شاعر ؤ نو بل خوا هغه دَ خپل وطن دَ سرحدونو حفاظت کوونکے هم ؤ. دَ پښتنو خو فطرت اؤ پهٔ خټه کښې دَ وطن مینه اغېړلې شوې ده. یونس خلیل دَخپل وطن سره بې کچه مینه لرله اؤ دَدغې مینې اظهار ئې دَ شعر پهٔ ژبه کړے دے لکه چې وائي.
زما مینه دې شفق شي
چې ښائست پرې ستا سحر شي
ستا نامه مې وظیفه ده
دَ بې تابه زړهٔ درزا کښې

هر یؤ زخم زما شمع
ستا دَ نوم پهٔ چراغان کښې
سرمایه ده دَ غازیانو
امانت دَ شهیدانو"۳۹
پهٔ "پاکستان نظم" کښې وایي.

دا دَ ورځو شپو پۀ زنه
حال دَ ننګ اؤ دَ ناموس دے
دا غازه ده پۀ رخسارو
دا نکریزي پۀ لاسونه
دَ شهید دَ وینې رنګ دے
دَ وفا دَ تورې شرنګ دے۴۰

دَ وطن عظمت پۀ نظم کښې ئې دَ خپل وطن عظمت پۀ دا ډول بیان کړے دے. لکه چې وائي.

نمر سپوږمۍ دې ستا دَ شان پۀ تماشه وي
همېشه دې هسکه غاړه ستا عظمت وي
پۀ کښې سترګې دَ مړانې پتې مۀ شه
افسانه وي کۀ تاریخ دې حقیقت وي"۴۱

دَ خپل وطن رنګیني دَ خپل ژوند رنګیني ګڼي اؤ دَ خپل وطن غم خپل غم ګڼي لکه چې وائي.

ستا دَ حُسن پۀ رنګونو چې رنګین شۀ
هر یؤ خوب مې هم پۀ خپله خپل تفسیر شۀ
نفرتونه شو دَ کلي ورانې نخښې
خو ستا مینه دَ نیستئ دَکور تعمیر شۀ"۴۲

پۀ "سحر" نظم کښې یونس خلیل دَ خپل زړۀ اؤ ګېر چاپېره ماحول اثراتو اظهار ډېر پۀ ښائسته انداز کښې کړے دے اؤ دَ هغۀ وخت دَ حالاتو عکاسي ئې ډېره پۀ ښائسته انداز کښې کړې ده. لکه چې وائي.

"قوم پۀ ګوته زمانې ته خپله برخه دَ نصیب کړه
چا به ذکر دَ زندان کړو چا خبره دَ صلیب کړه
خو بې خوفه بې خبره مونږ دَ دار دَ سر سرخئ کښې
یؤ رنګین سحر پېدا کړو دَ هر ظلم تروږمۍ کښې

دا سحر زمونږ هستي وه دا ستائنه دَ دنیا ده
اعتراف دَ زمانې دے دا دَ ورځو شپو ثنا ده۴۳

دَ هغه دَشعر ژبه خوږه، لطیفه،نازک بینه اؤ باریک بینه ده، چې دَ هغې پۀ وجه پۀ پښتو جدید ادب کښې دَ نورو شاعرانو نه امتیازي اؤ ځلنده مقام لري . هغه دَ خپل تخیل پۀ قوت پۀ خپله شاعرئ کښې یؤ نوے جهان اباد کړے دے. دَ هغۀ دَ شاعرئ پۀ جهان کښې ښکلا، مستي، سرور، دَ خوشبویو احساس اؤ دَ مسرتونو اؤ خوبونو جزېرو اؤ خیالي دنیا اثرات ډېر زیات دي. پۀ "تنهائي" نظم کښې وائي .

"غلې غلې خوشبوئي ده چار چاپېره
لکه سترے شان بهار وي غزېدلے
یؤ موهومه شان مستي ده پۀ فضا کښې
لکه خیال وي دَ مېخوار پۀ سېل وتلے

لرې لرې ساز غږېږي غلے غلے
لکه خوب وي مستو سترګو کښې راغلے"۴۴

## حـــــــــــــــوالـــــــــې


1. همېش خلیل،پښتانهٔ لیکوال اول ټوک،اباسین پرنټنګ پرېس جنګي محله، پېښور،اشاعت دریم ،کال جولائي ۲۰۱۰ء مخ ۴۶۱
2. یونس خلیل،څاڅکي،کوهاټ روډ پېښور،اشاعت اول کال ۱۹۸۲ءمخ ۴۹
3. مدیر پروفېسر نصرالله جان وزیر،پښتو شپږ میاشتنۍتحقیقي مجله سلسله نمبر:۶۵۶ ،جلد ۴۷
4. یونس خلیل،څاڅکي، مېټرو پرنټرز لاهور ،اشاعت دویم کال اپرېل ۱۹۹۲ء مخ ۱
5. همدغه مخ ۳
6. یونس خلیل، پس دَ څاڅکو لاله زار،ظفر رحمان خټک ایم-اے حرم پرنټرز محله جنګي قصه خوانی پېښور،اشاعت اول کال جون ۲۰۰۲ء مخ،۶، ۵
7. همدغه مخ ۱۳
8. هم دغه ۱۷
9. فضل میر خټک ، فضلیات ،محمدرسول (پښتواکېډمي)اشاعت اول کال ۱۹۹۹،مخ ۲۲۵
10. پروفېسر انور جمال، ادبي اصطلاحات ،نیلاب پرنټرز ګوالمنډ،راولپنډي ،اشاعت څلورم کال مارچ ۲۰۱۷، مخ۱۱۲
11. یونس خلیل،څاڅکي،کوهاټ روډ پېښور،اشاعت اول کال ۱۹۸۲ء مخ ۹۰
12. یونس خلیل، پس دَ څاڅکو لاله زار،ظفر رحمان خټک ایم-اے حرم پرنټرز محله جنګي قصه خوانی پېښور،اشاعت اول کال جون ۲۰۰۲ء مخ۷۸
13. ډاکټر اقبال نسیم خټک ، دُردانې ، حرم پرنټرز محله جنګي ،ازاعت دوېم ،کال ۲۰۰۰ءمخ ۲۹۱
14. یونس خلیل، پس دَ څاڅکو لاله زار،ظفر رحمان خټک ایم-اے حرم پرنټرز محله جنګي قصه خوانی پېښور،اشاعت اول کال جون ۲۰۰۲ء مخ۱۰۵
15. همدغه مخ ۱۰۶
16. یونس خلیل، پس دَ څاڅکو لاله زار،ظفر رحمان خټک ایم-اے حرم پرنټرز محله جنګي قصه خوانی پېښور،اشاعت اول کال جون ۲۰۰۲ء مخ۲۶
17. همدغه مخ ۴۴
18. یونس خلیل،څاڅکي،کوهاټ روډ پېښور،اشاعت اول کال ۱۹۸۲ءمخ ۷۸
19. همدغه مخ ۷۰
20. همدغه مخ ۱۹
21. یونس خلیل ، څاڅکي ، مټرو پرنټرز لاهوراشاعت دوېم کال ۱۹۹۲ءمخ۲۷،۲۶
22. یونس خلیل،څاڅکي،کوهاټ روډ پېښور،اشاعت اول کال ۱۹۸۲ءمخ۷۱
23. یونس خلیل، پس دَ څاڅکو لاله زار،ظفر رحمان خټک ایم-اے حرم پرنټرز محله جنګي قصه خوانی پېښور،اشاعت اول کال جون ۲۰۰۲ءمخ۷۳
24. همدغه .مخ ۳۵
25. یونس خلیل ، څاڅکي ، مټرو پرنټرز لاهوراشاعت دوېم کال ۱۹۹۲ءمخ۶۶
26. یونس خلیل، پس دَ څاڅکو لاله زار،ظفر رحمان خټک ایم-اے حرم پرنټرز محله جنګي قصه خوانی پېښور،اشاعت اول کال جون ۲۰۰۲ءمخ۲۹
27. یونس خلیل ، څاڅکي ، مټرو پرنټرز لاهوراشاعت دوېم کال ۱۹۹۲ء مخ ۶۴
28. ډاکټر اقبال نسیم خټک ، دُردانې ، حرم پرنټرز محله جنګي ،ازاعت دوېم ،کال ۲۰۰۰ء مخ۲۰۹
29. یونس خلیل،څاڅکي،کوهاټ روډ پېښور،اشاعت اول کال ۱۹۸۲ءمخ ۵۹
30. همدغه مخ ۴۸
31. همدغه مخ۶۵
32. همدغه مخ۶۷
33. همدغه مخ ۴۶
34. همدغه مخ ۳۲
35. همدغه مخ ۳۸
36. یونس خلیل، پس دَ څاڅکو لاله زار،ظفر رحمان خټک ایم-اے حرم پرنټرز محله جنګي قصه خوانی پېښور،اشاعت اول کال جون ۲۰۰۲ء مخ۴۸
37. همدغه مخ ۷۰
38. یونس خلیل،څاڅکي،کوهاټ روډ پېښور،اشاعت اول کال ۱۹۸۲ء مخ۷۷
39. همدغه مخ ۵۱،۵۰
40. همدغه مخ ۵۲
41. همدغه مخ ۱۰۰
42. یونس خلیل، پس دَ څاڅکو لاله زار،ظفر رحمان خټک ایم-اے حرم پرنټرز محله جنګي قصه خوانی پېښور،اشاعت اول کال جون ۲۰۰۲ء مخ ۴۰
43. همدغه مخ ۱۶۱
44. یونس خلیل،څاڅکي،کوهاټ روډ پېښور،اشاعت اول کال ۱۹۸۲ء مخ۸۲